هفته نامه

دجهاد هنداره

مـــراة الجـهـــاد

لومړی کال ، ۳۲ گڼه چهارشنبه د ۱۳۷۰ کال دحمل ۲۱ مه

۵۳ درصد از قرا و قصبات افغانستان ویران گردیده است

کمیته سویدن برای افغانستان درپیشاور اخیراً گزارشی راانتشار ودران پیرامون اسیب وارده برامور زراعت وفلاحت افغانستان دردوران دوازده سال جنگ روشنی انداخته شده است .

درگزارش مذکورامده است تاقبل ازهجوم روسها بر افغانستان ۷٤ درصد مردم مصروف کشت وزرع بودند که حاصلات ان ۵۵درصد عاید ملی راتشکیل میداد ،

درصفحه هفتم

دبگرام په هوایی ډگر دمجاهدینو حمله

PROPERTY OF ACKU

په اتم مخ

دپروان مجاهدینو ددښمن پر کاروان حمله وکړه

دپروان ولایت څخه رپوټ ورکړشوی چی زړورو مجاهدینو دحمل په ۱٦ نیټه دتوتم دری په سیمه کی ددښمن پریوه اکمالاتی کاروان باندی عملیات ترسره کړل ، چی له دی کبله دګوډاګی رژیم دوه عرادی ټانکونه او۷ عرادی موټری ویجاړی اوداور لمبه شوی په خبر کی ویل شوی چی له دی نه علاوه درژیم ۲۳ تنه پلویان په هلاکت رسیدلی او ۱۷ تنه یی ټپیان شوی دي .

دخوست په فتحه شوی ښاربانډی درژیم بمباری دوام لری

زموږ خبریال دخوست له ښار څخه رپوټ راکوی چی دخوست دلویی ولسوالی دفتحی وروسته تراوسه پوری دکابل دمزدور رژیم الوتکی هره ورځ دخوست په ښار اودهغه دشاوخوا په سیمو بمباری کوی .

په خبر کی څرګنده شویده چی دحمل په ۱۵ نیټه دخوست په بازار او هم دخوست په نورو سیمولکه دبړی ، تودی چینی او باغ شمال په سیمو کی ګرنیټی اوخوشه یی بمونه وغورځول چی نوموړی الوتکی دمجاهدینو دړزو له کبله وتښتیدی پدی بمباریو کی دری تنه ښاریان ټپیان شویدی .

خبریال زیاته کړیده چی دکابل رژیم په ۲٤ ساعتونو کی دخوست نادرشاه کوټ اودځدرانو په بیلا بیلو سیمو کی ۱۰ سکد توغندی ویشتی دی چی زیات مالی تاوانونه یی واړول .

الحاج مولوی جلال الدین حقانی دفرهنگی ټولنی له غړوسره په مرکه کی :

دخوست په فتحه کیدو په له قبایلی سیمو سره درژیم دارتباطاتو اوتخریبی فعالیتونو مخه ونیول شی

دوهم مخ

اراکین رژیم درولایت تخار به هلاکت رسیدند

میدیا : ١٤ حمل :

دگرجنرال کبیر «دلیل » رئیس خاد ولایت تخار با رئیس ارکان فرقه ۵۵ ومعاون سیاسی خاد ولایت تخار با انفجار ماین تعبیه شده مجاهدین به هلاکت رسیدند

احمد شاه مسعود رئیس شورای نظار جمعیت اسلامی افغانستان به میدیا خبرداد دراثر انفجار موتر جیپ حامل مسوولین ولایت تخار بروز ٦ حمل که توسط مجاهدین بامهارت تام چریکی ماین گذاری گردیده بود منفجر ودگرجنرال کبیر « دلیل » رئیس خاد حوزه ولایت تخار همراه با رئیس ارکان فرقه ۵۵ ومعاون سیاسی خاد وحوزه تخار جابجا هلاك و(رشید) قوماندان ملیشه های منطقه با چند تن دیگر ازملیشه ها شدیدا زخمی شدند .

قابل یاداوریست که رژیم کمونست کابل بعد از فتح ولایت تخار توسط مجاهدین ولسوالی خواجه غار تخار رابحیث مرکز ولایت قرارداده است همچنان درخبر امده است که مجاهدین بااجرای یك عملیه کوماندویی درقوای نظامی رژیم واقع شهر خواجه غار دودستگاه پرتاب بی ام ۲۱ منفجرنمودند .

دملگرو ملتو سازمان به یو تحقیقاتی هیات خوست ته رالیږی

نیویارك : دحمل ۱۷ مه :

دملگرو ملتوسازمان عمومی منشی « پریزدیکویار » په دی سازمان کی دپاکستان سفیر جمشید مارکر دهغه پیشنهاد په هکله دبحث کولو سره موافقه کړی په کوم کی چی ویل شوی چی باید ددغه سازمان یو هیات دخوست ازاد کړای شوی ښارته واستول شی ، اوهمدارنګه دملګرو ملتودسازمان عمومی منشی باید دخپل صلاحیت اونفوذ څخه په استفادی سره دکابل رژیم له خوا پدی ښارباندی دسکډ توغندیو اوهوایی بمباریو مخه ونیسی

دغه موافقه په هغه لیدنه کتنه کی سرته رسیدلی چی په نیویارك کی دپاکستان دسفیر اوپریزدیکو یار ترمنځه وشوه .

مجاهدینو دکابل په هوایي ډګر برید وکړ

میدیا ، دحمل ١٤ :

دمجاهدینو دلری ویشتونکو توغندیو په ډزو سره دکابل ولایت دخواجه رواش هوایی ډګر ترمینل ته درووند زیان اوړیدلی او ۲ عرادی موټر تخریب شوی دی

میدیا دقوماندانانو دشورا دفتر درپوټ له مخی وایی چی مجاهدینودخواجه رواش په هوایی ډګر باندی دسکر (. ۲) او سکر (. ۳) توغندی وروول چی په نتیجه کی دهوایی ډګر دترمینل یوه برخه ویجاړه اودروند زیان اوړیدلی دی .

رپوټ وایی چی پدغه برید کی (۲) عرادی په لوژستیکی موادو باراته سلنډره موټری دهغو سپرلیو سره داور لمبه شوی دی.

دغه دفتر په یو بل رپوټ کی وایی چی مجاهدینو دکابل ولایت دسروبی په ولسوالی باندی دیوه بریدپه ترځ کی درژیم (۹) عسکر وژلی او (٥) تنه نور یی ټپیان کړی دی .

سرمقاله

به سوی ازادی کامل افغانستان عزیز

سنگرداران همیشه درسنگر یکبار دیگر رکود وسکوت مسلمانان کشور ودرمجموع برادران مسلمان جهان رادرهم شکست وغنچه های پژمرده یی راکه خزان مرگبار رکود بران اثر گذاشته بود ، بارسیدن فصل بهاران سرازنوشگفتن گرفت وتوام باان امیدهای خفته زبانه کشید .

فتح وپیروزی بی مانند خوست درمرحله اول باورناشدنی جلوه میکرد؛زیرااین خطه بنام به اصطلاح جایگاه انقلابیون دواتشه ، لانه کمونستان وفادار ، خطه شکست ناپذیرو ... مسمی گردیده بود .

منطقه ایکه بعد ازتجاوز روسها تاشکست انها میدان نبرد وتاخت وتازبین مجاهدین وقوای سرخ مجهز با مدرن ترین وسایل حربی مبدل گشته بود و ورد زبان خاص وعام شده بود ، بالاخره ازادمی شود ، درهمان زمان نیز شیرمردان

صفحه هشتم

سناتور مولانا سمیع الحق په حقانیه مدرسه کي دتفسیر ددورې دپای ته رسیدو په غونډه کې :

الحاج مولوی جلال الدین حقانی دخوست دفاتح اوامام شامل ثانی په لقب ولمانځه

په اووم مخ

ګورباچوف داعتصاب کوونکو غوښتنو ته غاړه کیښوده

مسکو دحمل ۱۷:

دروسیی جمهور رئیس ګورباچف دډېرو دسکرو داعتصاب کونکو کارګرانو ځینی غوښتنو ته غاړه ایښی .

دامریکا غږ رادیو دیوه خبرله مخی ګورباچف ددولتی مالیی ځینی مواد چی خلکو پری اعتراض درلود ، معاف کړی دی خوددی سره سره داعتصاب کونکو دری لکه کسان چی دروسی دډېرو سکرو دمعدن چیانو څخلورمه برخه جوړوی خپلو دندوته له حاضریلو څخه انکار کړی دی.

پنځه لکو عراقیانو ایران ته پناه یوړه

تهران دحمل ۱۹:

دنړیوالو خبري منابعو له خولي پنځه لکه عراقیان ایران ته ننوتي اودنورو څولکو عراقیانو دورتګ ویره موجوده ده دایران دبهرنیو چارو یوه ویاندوویل : دپناه ګزینو زیات تعداد دکرد سیمو څخه او ٥۰ زره دجنوبي عراق څخه چیرته چي شیعه‌باغیان اوسیږي راغلي دي ، ده زیاته کړه چي دعراقیانو نور راتګ به موږله ستونزوسره مخامخ کړي

په غزنی کی دمجاهدینو حملی روانی دی

دهغو رپوټونو له مخی چی دحمل په ۱۲ نیټه دقوماندانانو دشورا نظامی دفتر ته رسیدلی ویل کیږی چی دغزنی په ولایت کی پردښمن باندی دمجاهدینو کفرځپونکی حملی روانی دی اوپدی وروستیو کی دری تنه ملیشیان دمجاهدینو له خوا ژوندی نیول شوی اوڅلور تنه یی دمین په چاودنه کی چی دمجاهدینو په واسطه ځای پرځای شوی و ، هلاك شوی اوڅو تنه نوریی ټپیان شوی دي .

دخوست له جګړی نه دجهاد هنداری د لیږل شوو خبریالانو راپورتاژ

(۳)مخ

اوس به مجاهدین په خوست کي ددښمن له نیول شوو وسلو څخه دګردیز ، غزني ، کلات اوحتي دکابل په جنګونو کي ستره استفاده وکړي

«الحاج حقاني»

دجهاد هنداره

مؤسس : الحاج مولانا جلال الدين حقاني

دتأسيس كال : ۱۳۶۹ هـ ش

سید شهریار

دخوست فتحه درون سباوون لومړی زیری

دالله تعالی په فضل اوکرم سره یو ځل بیا دملحدو خونخورانو ،اوبی دینو په مانیو کی زلزلی ګډی شوی ، پښښی یی وریږدیدی ، ورمیږونه یی مات شول او ددرواغو ډنډوری یی له خاورو سره خاوری شوی ځکه چی دمیړنیو دروزنی ځانګو اودسرښندونکو مجاهدینو یو تهاتوبی دپردیو مزدورانو دناپاکومنګلو څخه ازادکړای شو دافغانانو شملی اوسرونه دابدالی دور په څیر یو ځل بیا په ګرده نړۍ کی داسمان سره وجنګیدل حوصلی یی پورته ،جذبی یی طوفانی اواحساسات یی لاپسی راوپاریدل ځکه چی دخپلو متو په زور یی دپکتیا دګړنګونو ،غرونو اورغونو څخه دکمونستانو لکی ورغوټه کړی اودشرمیدلی ماتی سره یی ددوی تندی وجنګاوه اودخوست په لوړو اودنګو غرونو یی داسلام توغ رپاند کړ، په ګرده نړۍ کی یی دغیرو او اغیارو په محلونو اوقصرونو کی دشرم ذلالت اورسوایی ډنډوری وغږولی اودکابل لاس پوڅی رژیم خویی داسی وځپه چی نوربه یی پښی په اړمونو هم رانینګی نشی اونور به په هر ډګر کی له شرمیدلی ماتی سره مخامخ کیږی اوله زیروسره روان ډک پسرلی به ددوی دژوند لپاره دخزان کارورکړی ، دعمرونو پانی به یی ژیړی شی اودتاریخ له پانو څخه به یی نومونه وغورزیږی او روان کال به دمجاهدینو اومهاجرینو دکامیابۍ ،سرلوړی ازادۍ اوخپلواکی کال وګرځی ځکه چی دخوست فتحه یی لومړی زیری دی .

دخوست فتحه یواځی دخوست فتحه نه ،بلکی زموږ لپاره دازادۍ اوخپلواکی لومړی زیری دی چی زموږ په غوږونو کی انګازی کوی ، دغی فتحی موږته داثابته کړه چی که چیری مجاهدین یو لاس اویو موټی شی نودالله تعالی فتحه اونصرت دهغوی ازلی اوابدی ملګری دی، خدای پاك پخپله وعده کړیده چی حق کامیاب دی اوحق به کامیاب وی نوګردی نړۍ ولیدل چی حق کامیاب دی اوکامیاب شو.خوست چی داپیر وخت دفتحی په درشل کی ؤ او س فتحه شو اوزموږ لپاره دخوست فتحه دبشپړو خوښیو اوخوشحالیو نه پرته دعبرت اوپندیو درس هم وګرځید اوراویی ښودله چی په اتحاد اواتفاق کی څومره کامیابی پټی دی اوخدای پاك مکړه که چیری موفتحه نه وی ترلاسه کړی نو ددښمنانو داانګازی به یو ځل بیا په ګرده نړۍ کی زمزمه کیدی چی مجاهدین فتحه نشی ترلاسه کولای ،خبرو اترو ته دی کښینی ، اوخارجی پریکړو ته دی دسرپه سترګو غاړه کیږدی ځکه څوك چی یو ولایت نشی ازلولای نوهغوی به ګرد افغانستان څرنګی ازادکړی ؟ لکه څنګه چی همدغه ډنډوری دجلال اباد دجګړی څخه وروسته په نړۍ کی غږیدی خودخدای پاك احسان ؤ دهغو بدمرغیو څخه مونجات ومونډ کومی چی دجلال اباد دفتحی په لاره کی راپیداشوی وی هغه ناپاکه خنډونه که هغه دخپل منځی بدبینیو اواختلافاتو په بڼه کی ؤ اوکه دپردیو دسازشونو اوتوطئو له لاری خوموږ یی دفتحی له درشل څخه لیری وساتلو، اوماتی خوړلی

په (۷)مخ کی

دخوست په فتحه کیدو به له قبایلی سیمو سره درژیم دارتباطاتو اوتخریبی فعالیتونو مخه ونیول شی

پوښتنه : محترم مولوی صاحب دخوست دفتحی په هکله لوستونکو ته مفصل معلومات ورکړی ؟

ځواب :- بسم الله الرحمن الرحیم

دخوست دلویی فتحی تفصیل دوخت دتنګوالی په سبب نشو وړاندی کولای ، خو څخه مهم ټکی به یی ذکرکړو .

که څه هم معمول داسې ؤ چې دجګړې پرمیدان کې نیول شوي کسان باید محاکمه شوي وای ، خووروسته له دې چې خوست فتحه شو ، مجاهدین ددې لپاره چې داپه نورو ځایونو کې ددښمن قواو ته عنعنه وګرځي ، هغه یې دمحاکمې څخه پرته معاف کړل

دخوست په فتحی سره مجاهدینو (۲۵۰۰) کسه ددښمن افراد په اسارت ونیول ، پدی اسیرانو کی عسکر ، صاحب منصب ، ملیشه اوڅارندوی شامل دي ، دشفاخانی مریضان چی په هغی کی ښځی اوماشومان هم ؤ ، اوځینی صاحب منصبان اوعسکرچی په جنګ کی زخمیان شوی ؤ چی د ۳۵۰ او ۴۰۰ په حدودوکی یی تعداد دی . دخوست لښکرکوټ دانقلاب څخه مخکی هم ډیر اهمیت درلود ، اویوه مهمه ستراتیژیکه منطقه وه ، اودټول افغانستان دڅلورو میکانیزه فرقو له جملی څخه چی یوه په جلال اباد یوه په هرات کی ، اویله په کندهارکی وه څلورمه فرقه په خوست کی وه ، ددی څلورواړه فرقو په نسبت دخوست ۲۵ مه فرقه ډیره مجهزه وه اوبیا دثور دکودتاه څخه وروسته ، دجنګ په وجه دوی دلته (۵)ارګانه جوړکړی ، یویی قبایلی اومحلی ملیشه وه چی په خوست کی هغه ډیر قوی ؤ ، دنورو ولایتونو دملیشه و په نسبت دخوست ملیشه ډیره قوی وه ، دوهم دلته دسرحدی لوا څخه لومړی نمبر لوا اودوهم نمبر لوا وه چی هغه ته هم دیوی فرقی اهمیت ورکړل شوی ؤ ، دریم دخاد اوڅارندوی یو غټ قوت دلته پروت ؤ ، چی دهغی کنډکونوهم دفرقی شکل درلود ، بل دلته دوی یو نوی ارګان جوړکړی ؤ ، چی دسپاه انقلاب اوګارد خاص له خلکو نه جوړشوی ؤ ، اوهمدارنګه دګلم جم ملیشه وه ، ددغه تشکیل په اساس تقریباً له یوه کال څخه مخکی خوست دکابل رژیم له خوا دولایت په توګه اعلان شو پرخوست باندی دمجاهدینو ډیر قوت مصروف ؤ ، اود رژیم له خوا هم دلته ډیر کسان استخدام شوی دی ، اوله دی لاری په سرحدی قبایلو کی دکابل رژیم په ګټه ډیر کارکیده ، اوحتی ددی لښکرکوټ له لاری دپاکستان په داخل کی یو شمیرخلك اکمالیدل ، چی دلته دپاکستان حکومت ،اودمجاهدینواومهاجرینو پرضد یی فعالیتونه کول ، نوددی ملحوظاتو په خاطر خوست ډیراهمیت درلود ، اوپه دیره غټه پیمانه اکمالیده ، دوی چی دلته ولایت جوړکړ ، دامعنی یی درلوده ، چی دولایت دسهمیی مطابق دوی ته پیسی ، پرسونل ، اواسلحی ورکول کیدی ، نواوس دخوست په نیولو سره دغه ټول پرسونل درژیم له اردو څخه سقوط شو اودادمجاهدینو خورالویی بری دی اوس کیدای شی چی مجاهدین له دښمن څخه ددغه نیول شوی وسلی په وسیله ګردیز ، غزنی ،قلات اوحتی دکابل په جنګونو کی ډیره لویه استفاده وکړی بل خواته دخوست په فتحی سره هغه ارتباطات چی دخوست دملیشی اودسرحدی قبایلو ترمنځ موجود ؤ له منځه لاړل .

اوکومی لنډی لاری چی پرمجاهدینو باندی بندی وی ، یا دلته دمجاهدینو دنژدی قرارګاو تاسیسول چی مخکی یی امکان نه درلود ، اوس مجاهدینو ته دازمینه برابره شوه ، چی نژدی قرارګاوی جوړی کړی .

دمجاهدینو اکمالاتی لاری اوس ددی فتحی سره بیخی لنډی شوی ، دخوست له ښار څخه ۸۰۰۰ کورنی چی اقلاً هره کورنی په حدوسط سره ۵ کسه نفوس لری ، راووتلی ، اومهاجرشوی اودوی ته په پوره اوصحیح طریقه امن ورکړل شوی که څه هم معمول داسی ؤ چی دجګړی په میدان کی نیول شوی کسان باید محاکمه شوی وای ، خووروسته لدی چی خوست فتحه شو ، مجاهدینو ددی لپاره چی دا نورو ځایو کی ددښمن قواو ته عنعنه وګرځی هغه یی دمحاکمی څخه پرته معاف کړل ، ولی ترهغی پوری چی مجاهدین لدی څخه مطمئنین نشی چی دوی دوهم ځلی دحکومت قواو سره نه یو ځای کیږی اوبیا دمجاهدینو پرضد په عملیاتو کی برخه نه اخلی دغه مسول افراد به له مجاهدینو سره وی اودهغوی ترنظارت لاندی به وی .

پوښتنه : دجګړی په عملیاتو کی دمجاهدینو ترمنځ داتحاد اواتفاق موضوع څنګه وه ؟

ځواب : په لومړی مرحله کی دټولو ترمنځ اتحاد موجود و اوټولو قوماندانانو دعملیاتو په اجراتعهد کړی و ، ولی په عملی ډګرکی ځینی کسان ډیر وروسته پاتی و ، په تیره بیا دوروستیو ۱۵ ورځو په دوران کی غربی محاذ ونشوای کولای چی پوره بریالیتوب ترلاسه کړی مطلب داچی غربی محاذ ترهغی پوری چی مجاهدین له نوروړلارو څخه بازار ته ونه رسیدل څه ونشوای کولای .

دخوست په شفاخانه کي تقریبا (۵۰۰) تنه مریضان پراته وو ،دوه ورځي رژیم نه ددوي پوښتنه کړي وه اونه یې ډوډۍ ورکړې وه

پوښتنه : په دی عملیاتو کی دخوست والی ، دفرقی قوماندان اونورلوړرتبه کسان وژل شوی که دمجاهدینو لخوا نیول شوی دی ؟

ځواب :پدی عملیاتو کی جنرال غونډی دڅارندویو قوماندان په لومړی جګړه کی ووژل شو ، دسرحدی دوهم نمبر لوامرستیال په لومړی ورځ مړشوی ، دفرقی سیاسی مرستیال ، دخوست دفتح په اخرینی ورځ کی وژل شوی ، دخاد رئیس جنرال رحمت شاه ، منشی سعادت ګل ، دخوست دقول اردو قوماندان محمد حلیم دجګړی پخوانی قوماندان غلام فاروق دجمهوررئیس مرستیال انجینر نظرمحمد ، سوله مل ددفاع وزارت مرستیال ، دریا خان دټول افغانستان دڅارندوی عمومی قوماندان اوجنرال څنګلی ځدراڼ چی دیوه هیات په مشری خوست ته راغلی و ورك اوتری تم دی ، داکسان چیرته پټ دی اومجاهدین ددوی په لټه کی دی ترڅو هغوی په لاس راوړی ، دخوست د(۲۵می) فرقی قوماندان جنرال ګل اقا په لاس راغلی ، نور په ټیټه درجه افسران ډګروال ، ډګرمن ، جګړن اوتورن دابی شمیره زیات په اسارت نیول شوی ، ظفرځاځی دفرقی رئیس ارکان په ځاځی میدان کی بند پاتی شوی و، په مجموعی توګه تقریبا ۱۲ یا ۱۳ جنرالان په خوست کی موجود ؤ چی دهغی څخه یو شمیر پخوانی مسولین ددی ځای و اویو شمیرنوریی له کابل څخه دجګړی دپلان دجوړولو اودمجاهدینودحملی دناکامولو لپاره رالیږل شوی ؤ .

خودخدای په فضل اوکرم ددی ټولو تدبیرونوسره سره مجاهدین بریالی شول اودوی ناکام.

پوښتنه :دمجاهدینو په لاس دنیول شویوغنایمو احصایه به څومره وی ؟

ځواب : ددی مکمل اومفصل معلومات تراوسه ندی ټول شوی ، دغنایمو شمیر ډیرزیات دی ، توپونه ټانکونه ، ۱۳۰ملی متری توپونه او۱۲۲ ملی متری ډی سی توپونه ، اوډیری نوری سپکی اودرندی وسلی

په (۷)مخ کی

— په تیر پسې : —

پدغه وخت کی دابوجندل
دغونډ داپراسیون مدیر چی
بی سیم مخابره یی په لاس
کی وه ، پرمجاهدینو
دیعقوبیو دعلاقه داری
دفتحه کیدو زیری وکړ ،
دغه وخت دسهار اته بجی
نږدی وی اودخوست
زورهوایی ډګر سره
دمسلمانو مجاهدینو
اودهریانو ترمنځ سخته جګړه
روانه وه ، موږ هغه
مجاهدینو سره ناست وو چی
دتعرضی مجاهدینو دفاع یی
کوله پدغه وخت کی می
پریوه مجاهدسترګی ولګیدی
چی دجګړی په حالت کی یی
روژه په خوله دقرانکریم
تلاوت کاوه ، جګړی ډیر
شدت درلود اودجګړی دځای
څخه مجاهدینو ټپیان راوړل
، ټپیانو دتندی له امله
داوبو غوښتنه کوله خو
دښنلو اوبه نه وی دزخمیانو
په راوړلو سره دفاعی
مجاهدین احساساتی شول
اوپرهغو دهریانو یی چی
دجنځو پوستو په جګو
سرونو کی ناست وو حمله
ورو‌ړه دحق اوباطل ترمنځ
جګړه نوره هم توده شوه ،
مجاهدینو دزیات باران
اوریدو دمشکلاتو سره سره
دحمل په اوله نیټه
دماسپښین په دوویجو
دجنځو دری پوستی چی
دخوست په جنوب غرب کی
په جګوغونډیو پرتی وی ،
فتحه کړی دیادولو وړده چی
ددغو پوستو څخه
دچهارشنبی په ورځ دوه تنه
عسکر دیومیل راکټ اویو
میل پیکا ماشیندار سره
دحضرت عمر (رض) دغونډ
قوماندان ته تسلیم شوی وو
، په دغو دووتنو عسکرو
کی یو تن علی الله زما
دیوی پوښتنی په حواب کی
وویل چی حکومتی صاحب
منصبان لمونځ نه کوی اوروژه
هم نه نیسی اوعسکر یی هم
لمونځ کولو اوروژه نیولو ته
نه پریښودل همدارنګه
دپنجشنبی په ورځ دسهار په
لسو بجو دجنځو پوستو
څخه لس تنه عسکر دلس
میله کلاشینکوفونو ، یو
میل راکټ اویو میل پیکا
ماشیندار سره مجاهدینو ته
تسلیم شول پدغو لسو تنو
کی یو تن عسکرداسي هم ؤ
چي یار محمد عمربی د۱۵
کلونو په شاوخوا کی ؤ
اولیونی ؤ ، خو دهری

دخوست له جګړې نه دجهاد هنداري

دلیږل شوو خبریالانو راپور تاژ

(دریمه برخه :)

راپور تران : محمد یعقوب او (ر، ملاخیل)
عکاسي : احمد سینا « احمدي »

حکومت په جبری توګه
دعسکری دپاره نیولی ؤ.
یویل تن عسکر چی خپل
نوم یی ظریف راوښود
اودفاریاب ولایت دشیرین
تګاب ولسوالی اوسیدونکی
ؤ ورڅخه می پوښتنه وکړه
چی ته ولی اوڅنګه ددهری
حکومت سره یو ځای شوی
وی ؟ نوموړی په ځواب کی
وویل چی موږ دوه ورونه
دایران څخه خپل کورته
دتللو په وخت دهرات ولایت
دتورغونډی په سیمه کی

دپکتیا دجګو او دنګو
غرونو په مینځ اوپراخه
سپیرو دښتو په اوږدوکی
زما او زما دملګرو وروکی
قافله ، دخوست پر ساز کی
دمجاهدینو دبریالیو عملیاتو
او فتوحاتو څخه
دراپورجوړولو لپاره دادی
دځوم ځل لپاره بیا پرمخ
تلله او خپل سفروته یی
ادامه ورکوله !
دمیرانشاه دسرحدی ښار
څخه تریوه دوه ساعتنی لنډ
منزل وروسته دخوست «برې»

چی دی چیرته اوپه څه ډول
دمزدور رژیم عسکری قواؤته
شامل شوی ؟ هغه خپل
سرګذشت داسی بیان کړ :«
زموږ منطقه دځوکلونو
راپدی خوا آزاده ده
اودمجاهدینو په لاس کی وه
، اوما په خپله ازاده منطقه
کی ،په یوه دینی مدرسه
کی زده کړه کوله ، چی
دمزدور رژیم قواؤ یوه ورځ
ناڅاپی برید وکړ اوزه یی
ګرفتار کړم ، څو شپی په
کابل کی وم او له هغی

پوښتنی ته په ځواب کی
وویل چی:« په خوست کی
دمیشته قواو څخه ټول
عسکردی ته تیار وی چی
دموقع په مساعدیدوسره
مجاهدینو ته تسلیم شی ،
ځکه هغوی نه غواړ ی له
مجاهدینو سره وجنګیږی
یوازی ګلم جم او خوستی
ملیشه دمجاهدینو په
وړاندی مقاومت کوی » ده
وویل چی دعسکری په وقت
کی کله به چی موږ لمونځ
کولو نو صاحب منصبانو به
راباندی ملنډی وهلی او ویل
به یی چی لمونځ څه په درد
خوری ؟ یابه یی ویل چی
تاسی عسکریی اولمونځ ندی
درباندی فرض !
خدای مویښی ځینی صاحب
منصبانو به لاداهم ویل چی
ډوډی او پیسی دنجیب
حکومت درکوی نولمونځ
بیادڅه لپاره کوی ؟»
پدی عسکرو کی ځینی
داسی هم ؤ چی له ایران څخه
دراتګ په لارکی د مزدور
رژیم له کمینونو سره مخامخ
شوی ؤ ، دهغوی سره چی
څومره پیسی اواجناس ؤ
هغه ددولت ملیشه ؤ تری
لوټ کړی ؤ اودوی یی

> پدي عسکرو کي ځیني داسي هم ؤ چي له
> ایران څخه دراتګ په لارکي دمزدور رژیم له
> کمینونو سره مخامخ شوي ؤ ، دهغوي
> سره چي څومره پیسي اواجناس ؤ هغه
> درژیم ملیشه ؤ تري لوټ کړي ؤ ، اودوي یي
> دعسکري لوري ته سوق کړي ؤ

دعسکری لوری ته سوق کړی
ؤ ، ددی نیول شویو او
تسلیم شویو عسکرو په
مینځ کی داسی عسکر هم ؤ
چی ددوی په قول دوه یادری
ځله یی له خپلو پوستو څخه
دتیښتی هود کړی دی ،
خو دلاری دغلط والی او
ماینونو له ډاره بیرته په
شاتګ ته مجبور شوی ؤ.
دکابل رژیم له قواو څخه
دتښتیدلو عساکرو دغه
حکایتونه دمزدوررژیم
دضعف اوناتوانی یوه بلګه
ژوندی بیلګه ده ، مزدور
رژیم دبرچی په زور په راټول
کړای شوی پوځ باندی نشوی
کولای زموږ دمجاهد ولس

دایمان او عقیدې ددغه پر
مخ تلونکی یون مخه
ونیسی .
دتسلیم شویو عسکرو سره
دلیدنی کتنی او مرکو
وروسته دهمدی ورځی په
مازدیګر دشهید سلیمان شاه
دزرهداروغونډ پوری مربوطه
دغره په یوه لوړه څوکه کی
«دترصد » غونډی ته لاړو
ترڅو دخوست دعملیاتو په
هکله یو لړنوی معلومات او
خبرونه دجهادی سنګر له اتل
مشر الحاج «حقانی »سره
چی د«ترصد »له غونډی
څخه یی دمخابری او دوربین
په واسطه دجنګ جریان
رهبری کاوه ، لاس ته راوړو
، حاجی صاحب دمجاهدینو
دفتوحاتو او دجنګ په ېوی
صورت حال باندی داسی
رڼاواچوله :
«الحمدلله مجاهدین په پوره
بریالی توب سره پومخ تګ
کوی ، دمجاهدینو پر مخ
تګ دشمال لویدیز لوری نه
زیات دی ، اوس مجاهدینو
دبازار په لوړدنوی هوایی
ډګر دوی پو ستی نیولی چی
بازار ته ډیری لنډی دی ،
همدارنګه مجاهدینو
دتوپچی په (٦ ام)غونډ
باندی خپل بریدونه ګړندی
کړی دی ، دغه غونډ دزاړه
هوایی ډګر په شمال کی
پروت دی ، ددوی سنګرونه
په خورا ژورو او مستحکمو
زیرزمینیو کی ځای پر ځای
شوی ، او داسنګرونه دتیرو
اتو کلونو په موده کی جوړ
شوی دی ، پدی سبب دغه
غونډ یو څه مقاومت کوی ،
دزاړه میدان په اوږدوکی
اوس دمجاهدینو پوستی
جوړی شوی ،
نن مجاهدینو دراکټ په
وسیله ددښمن یوټانک له
مینځه وړی دی او مجاهدین
د«متون غونډی »څخه په
یونیم کیلومتری کی پراته
دی ، چی ددغه غونډی په
ساحه کی چی ددښمن له
مهمو اواستراتیژیکو مراکزو
څخه دی درادیو ، رادارو ،
عمومی مخابری او خاد
دفترونو مهمی پروژی ځای
پرځای شوی »
« نور بیا »

> یو ورور می دفرار په وخت کی دخلقیانو له خواوویشتل شو اومړشو
> ددغی پیښی په کیدو سره یی زه څلور میاشتی بندي کړم دبند څخه
> وروسته یی دغو پوستو ته راوستم

دملیشیانو له خوا ونیول شوو
سامان اونقدی پیسی یی
ټولی راڅخه واخیستی ،
پوره یوه میاشت یی دځان
سره وساتلو ، اوبیا یی کابل
اودکابل څخه یی خوست ته
راوستو دلته می یو ورور
دفرارپه وخت دخلقیانو له
خوا وویشتل شو اومړشو
ددغی پیښی په کیدو سره
یی زه څلور میاشتی بندی
کړم ، دبند څخه وروسته یی
بیا دغو پوستو ته راوستم
هروخت می غوښتل چی فرار
وکړم خو دصاحب منصبانو
اوماینونو له ویری راوتلی نه
شوم .
دغه عسکر دکمونستی
حکومت دموړال په برخه کی
وابی چی دخوست دهریان
مخکی هم دمجاهدینو څخه
ویریدل اود مجاهدینو له دغو
اوسنیو بریالیو عملیاتو سره
ډیر وارخطا اودخپلو ځانونو
دژوندی ساتلو په فکر کی
وو .
همدارنګه نوموړی عسکر
دمجاهدینو سره په یو ځای
کیدو اوهم دمجاهدینو
دروېی اوسلوك څخه ډیر
خوشحاله ؤ . ***

په سیمه کی د«شهید
سلیمان شاه دزرهداروغونډ»
مرکز ته ورسیدو ، ترڅو
لدی ځایه دخپل پروګرام
دنورو برخو په هکله خپل
سفرته ادامه ورکړو ، پدی
غونډ کی دخوست پدی
وروستی جګړه کی ددښمن
دنیول شویو ، اوتسلیم
شویو عسکرو یوی ډلی
هستوګنه درلوده ، چی
موږ خپل کار ددی ډلی له
ځینو عسکرو سره له
مرکوڅخه پیل کړ، کله چی
ددی عسکرو خیمي ته
ورغلو ترټولولومړی په یوه
تن سترګی ولګیدلی چی
دخیمی په دروازه کی ولاړ
او دافکارو سلسله یی خورا
اوږده راته ښکاره شوه لده
څخه مووغوښتل چی ځان
راته معرفی کړی ، هغه
وویل!
«زمانوم عبدالواسع دی ،
دپروان ولایت دکاپیسا
(کوهستان) ولسوالی
اوسیدونکی یم ، اودوه
میاشتی وشوی چی عسکری
ته یی نیولی وم » له
عبدالواسع څخه مووپوښتل ***

> الحاج حقاني وویل :
> ددښمن دفتح شویو پوستو شمیرل زما په نظر
> ګران دي ، ځکه په هره پوله اوهرکنج کي ددوي
> یوه پوسته ځاي پرځاي شوي څه وړه څه غټه ،
> بیا هم دیوي مجموعي شمیرني له مخي ددښمن
> څخه دپاسه ۱۵۰ پوستي فتح شوي دي

وروسته یی خوست ته
راولیږلم ،اودلته
د«ملیزایی» په پوسته کی
وم ، کله چی دمجاهدینو له
خوا زموږ پر پوستو برید
پیل شو ، نومالله خپلی
وسلی سره ځان مجاهدینوته
تسلیم کړ»
نوموړی وایی چی :« دکابل
رژیم دقواؤ وضعه ډیره ژویله
ده ، هغوی چی کوم عسکر
په زور له هر ځای څخه
نیولی ، هغه نه غواړی
دمجاهدینو سره وجنګیږی ،
ددوی ټول قوت اوس په
ملیشه پوری ترلی دی ».
ددی عسکرو له ډلی څخه
یوه بل ځوان چی خپل نوم
یی موږ ته « روکی» وویلو
، اودکابل ولایت دچاردهی
ولسوالی دده مرادخان
اوسیدونکی دی وایی چی ده
دخوست د«شهیدکلی » په
پوسته کی څلورمیاشتنی
عسکری کړی ده ، او پدی
موده کی یی هره ورځ ددی
تصمیم درلود ترڅو
مجاهدینو ته ځان تسلیم
کړی . دی وایی چی« موږ
خپله مجاهدین ؤ او زما
مشر ورور اوس هم په
میدانسارکی په جهاد بوخت
دی ځکه ما نه غوښتل دکابل
رژیم عسکری وکړم ولی
دماینونو دخطرله امله زه
بریالی نشوم ترڅو خپله دغه
غوښتنه ترسره کړم »
نوموړی عسکر زموږ یوی

الحاج حقاني دخوست دفتحې په اړه بهرني ژورنالستانو ته معلومات ورکوي

دکابل رژیم له خوا په خوست باندې دسکډ توغندیو دلګیدو یوه منظره

دخوست دبازار یوه څنډه

دخوست دښار یوه منظره

دمجاهدینو له خوا دملحد رژیم یو نیول شوي ټانک اوټانکر

دخوست له ښار څخه دملکي خلکو دوتلو یوه څنډه

دکمونست رژیم دویاړني ټانک چې اوس دمجاهدینو په قبضه کې دی

دهغو سپکو وسلو یوه ډیرو چي زړورو مجاهدینو دکابل رژیم له قواو څخه   ولجه کړیده

دخوست
په ښارکي
دګوډاګي
رژيم
دځارندوی
قوماندانی



په خوست کي دکمونستانو دډوډي خوړلو میز چي
دشرابو بوتل هم پکي ښکاري

درژیم
دهغو
عسکرو
یوه ډله
چي
مجاهدینو
نیولي دي

د ۲۵ فرقي قوماندان
جنرال ګل آغا ـ چي
اوس دمجاهدینو
له خوا نیول شویدي

ګروهي ازاسراي مليشاي بدنام ګلم جم

دخوست دښار زوړ هوايي ډګر

هغه بنديان
چي دخوست
دفتحي په
ترڅ کي
درژيم له
جيلونو څخه
ازاد شول

عنعنه محکومیت رهبران کمونستي بعد ازمرگ شان

شاه ولي «ذاهب»

پیروان مکتب ضد انسانی کمونیزم تاوقتی باهمدیگر دوستی ومحبت دارند که فعال وزنده بوده ودارای کم وبیش قدرت انسانی باشند اما بعد ازناتوانی ودرگذشت محبت وصمیمیت همرزمی حزبی شان ، بدشمنی وعداوت مبدل میگردد.

تاریخ روس کمونست شاهد وگویا ست که نظرات میان تهی وتباه کن لینن دروقت ستالین دکتاتور رد گردیده وستالین ادمکش که ازکشتن انسان وزجران لذت میبرد ودرحدود بیست ملیون انسان درزمان این جانی کمونست کشته شده وحتی بسیاری ازاعضای حزب کمونست نیز دران زمان فدای حس قدرت طلبی ستالین شدند این دکتاتوربیرحم نیز بعداز مرگ محکوم گردیده وفجایع اورایکایك بیان ووی رابنام دکتاتور قاتل وغیره یادکردنداین محکومیت بدرجه بود که جسد اورا به اتش کشیدند بدنبال ان سیاست ستالین راکه حاوی دکتاتوری وظلم بیحد بود ظاهراً به نرمش واصلاحات فریبنده عوض نمودند .

بدنبال ان خروسچف بعد ازمرگش درزمان قدرتمندی بریژنیف محکوم شده وجسدش مورد محاکمه حکومت کمونستی وخرافی بریژنیف قرارگرفت زبان طبل نوازان کریملین وپیروان مکتب کمونیزم به هجوخروسچف بازشد وهر روزباد مسوولیت وخیانت اسلاف رژیم افزایش می یافت .

همینگونه گرباچف نیز زمانیکه شکست قوای نظامی روسیه رادرافغانستان مشاهده نمود افغانستان رازخم خونین برای کشورش تلقی نمود متعاقباً مسوولیت لشکرکشی وتجاوز رابدوش بریژنیف وهمکاران نزدیك وی انداخت ومسوولیت شکست رسوا امیز قوای روسی درافغانستان رانیز بگردن دستگاه بریژنیف انداختند .

ماهیت کمونیزم چنان است که اخلاف تمام مسوولیت جنایات راکه خاصه این مکتب ضد انسانی وفضیحت بارمیباشد به گردن اسلاف فرومایه خویش می اندازند وازانها منحیث جانی ، قاتل وخاین یاداورمیشوند البته این حرفیست واقعی زیراهرکسی که یوغ اسارت ایدیالوزی کمونستی رابردوش نهاده این مفکوره منحط ،اشخاص مذکوررا جانی ، خاین ، قاتل ، ظالم ، مستبد ، دکتاتور وبدبخت جامعه تربیه میکنند تاازیکطرف احمقانه وبدون دانش ازتیوری پیروی نمایند وازطرف دیگر طبق دساتیرارباباب شان تمام ناکامی ها ، ناباوری ها وفضیحت ها را بگردن اربابان قدرت قبلی بیاندازند اعضای ترسووجبون این مکتب درزمان قدرتمندی ازرهبران بیراه خود سخت هراسیده جرئت انتقاد وتنقید راندارند طوریکه درزمان خروسچف ازوی سوال شد اینقدر انتقادات که بردوره ستالین صورت میگیرد چرا دردوره وی نتوانست انتقاد کنید درجواب گفت : « مثلیکه توحال برمن انتقاد کرده نمیتوانی من هم درزمان حیات ستالین انتقاد کرده نمیتوانستم » این واقعیت رااشکار نمود که هرشخص کمونست مخالف انچه می گوید عمل کرده ومی کند ازینکه جبرواختناق توام با رژیم کمونستی است لذاکسی راجرائت انتقاد ازرهبران رژیم کمونستی وگفتن حقایق نمیباشد

یگانه راه نجات ورستگاري بشر دراسلام این دین مبین الهي نهفته است که ضامن مرگ وزنده گي پرافتخار وسربلند مسلمین بوده اگر ازطرف کفار کشته شود درجه عالي شهادت نصیبش میشود واگر کفار رابکشد وظالمان وقاتلان رابجزاي اعمال شان برساند غازي میگردد

درافغانستان عزیز وقهرمان حزب مزدور خلق وپرچم بدستور کریملین نشینان وارادتمندان وابسته به انها درسال ۱۳۴۳ اساس گذاشته شد مدت دوسال نگذشته بود که این مزدوران روس فاشیست بین خود پراگنده وبدبین یکدیگرشدند که دراثر انشعاب وفرکسیون بازی بدوجناح خلق وپرچم منقسم گردیدند تااینکه دراواخر سال ۱۳۵۶ دراثر تلاش وفشارافراد کی ، جی ، بی روس وقومانده توسعه طلبان ماسکو این دوجناح اختلافات شانرا کنار گذاشتند وائتلاف چند روزه بمیان اوردند که روس ها نورمحمد تره کی رابه صفت رهبر وببرك کارمل رابحیث معاون اوتعین کردند .

زمانیکه داود جلاد اعتماد روس رادربرابر خودش سلب دید به کشور پاکستان ،عربستان ودیگرکشورهای اسیایی مسافرت نمود حین بازگشت روش وسیاست اویه یکبارگی تغیر کرد ورابطه اش رابه جهان اسلام وکشورهای غربی گسترش داد واز روس تا اندازه روگردان گردید علاوه بر ان تحریك اسلامی ازساحه پوهنتون پافراتر گذاشته درسایر نقاط کشورمردم طرفداری وشمولیت شان را درنهضت اسلامی اعلام داشتند ، انسجام ونظم نهضت موجب سردرگمی و وارخطایی روسها وعمال روس شده برای خفه ساختن نهضت اسلامی پلان کودتا رادرافغانستان طرح کردند موقعیکه تره کی ، کارمل ودیگر اعضای وفادار روس توسط رژیم انوقت بزندان کشانیده شده ، وبصفت خاینین ملی معرفی گردیدند دولت روس به پیشنهاد پوزانوف سفیر انوقت روس درکابل ومشوره بریژنیف ، یوری اندروپوف اندری گرومیکوو استینف وزیر دفاع انوقت روس ،قومانده کودتا رابه حفیظ الله امین صادر کردند واین مزدوران فرومایه بدون غوروتعمیق بدان قومانده لبیك گفته دگروال قادر درهوایی واسلم وطنجار درقوای زمینی این قومانده راعملی نمودند داود جلاد توسط افراد مخلص وکمونستش به قتل رسید روز هفت ثور ۱۳۵۷ وکودتای منحوس ثور بوقوع پیوست مداخلات مستقیم روس عملا درافغانستان اغازگردیداعضای باندائتلافی خلق وپرچم ازحبس رها شده نورمحمد تره کی به اصطلاح رئیس شورای انقلابی وببرك کارمل معاون ان تعیین شدند بدین ترتیب حکومت مختلط ازدوجناح وابسته برروس تشکیل گردید مگردیری نگذشت این دوجناح رقیب وخدمت گرازبیگانه هم دست وپاچه شده یکدیگر رامحکوم نموده سرکرده های باند پرچم رابنام طرح پلان کودتا دستگیر وقسما اعترافات انها رابدست نشر سپردند .

عده ای دیگر ازسرکرده ها مانند کارمل ، نجیب ، اناهیتا که درخارج وظایف سفارت رابدوش داشتند به کشورهای اروپای شرق فرارنمودند وازانجابه ماسکو فراخوانده شدند .

درکشورمیدان سیاست به حفیظ الله امین وتره کی افراد وابسته به جناح خلق خاص گردید ومنسوبین جناح پرچم را بنام اشراف زاده ، دشمن انقلاب ، غدار ، کارغل ، دشمن کارگرودهقان یاد کردند صبح وشام دستگاه های تبلیغاتی رژیم درهجوبدگویی علیه باند پرچم مصروف فعالیت بودند درداخل حزب برسر اقتدار خلق نیز دوپارچکی ونفاق موجود بود ودرتشکیلات

« باقی دارد »

ماهیت کمونیزم چنان است که اخلاف تمام مسوولیت جنایات راکه خاصه این مکتب ضد انساني وفضیحت بارمیباشد به گردن اسلاف فرومایه خویش مي اندازند وازانها منحیث جاني ، قاتل وخاین یاد اورمي شوند

دکمونستانو جنایات

محمد اسحق نظامي

د۱۳۵۷ هـ ش کال خونړی اومنحوسه کودتا چی دسرو خارجی یرغلگرانوپه بالقوه او دمشاورینو یی په بالفعل همکاری سره زموږ پر ملك الحادی اوکمونستی رژیم حاکم کړله همدی ورځی راپه دی خوا دامن ، سوکالی ، ازادی اوخپلواکی لمن په ټولیدو شوه عام قتلونه پیل شول ، الحادی درسونه په ښوونځیو کی رسمی شول ، په زرګونو عالمان ، دینی مشران ، منورین ، اووطن پالونکی دزندانو کومی ته ورتیل وهل شول .

زموږ میړنیو خلکو په اسلامی روحیه ددی ترور اواختناق په ضد اودکمونیزم دالحادی روش اومفکوری په مقابل کی دجهاد غږ پورته کړ خودخونړی کودتا راوستونکو لخوا په ډیره بیرحمانه اووحشیانه ډول پری له هوا اوځمکی نه ګولۍ واوریدی کلی وران شول اوفصلونه وسوځول شول.

دملعون تره کی په توره اودوحشت اوبربریت نه ډکه دوره کی زموږ دهیواد په گوټ گوټ کی عامی وژنی وشوی چی دهغی دجملی نه د۱۳۵۷ کال دحوت دمیاشتی په ۲٤ نیټه دهرات په ښار کی زموږ ۲۵ زره بیگناه اومسلمان وروڼه په شهادت ورسیدل همداراز د۱۳۵۸ کال دحمل په ۳۱ نیټه دکونړ دولایت دکرهالی نومی کلی څخه دپاسه زرتنه نارینه په عام ډول دظلم ترتیغ تیراوپه شهادت ورسول شول.

همدارنگه په همدغه کال دثوردمیاشتی په ۲۳ نیټه دلوگر دبرکی برك په ولسوالۍ کی دسلونه زیات خلك په دسته جمعی توگه دیو خلقی خورد ضابط په امر په رڼا ورځ کی دنورو بندیانو په مخ کی په شهادت ورسول شول . په همدی کال کی دسرطان په دوهمه نیټه دتره کی ملحد پوځ دکابل ښار دچنداولو دقیام پروخت . په زرگونو خلك په شهادت ورسول اوپه زرگونو نوریی په جیلونو کی واچول . دتره کی دټولی وفاداری سره سره چی له روسانو سره یی وکړه اودهغوی قومانده یی عملی کړه په ټول ملك کی ترور ، اختناق اووحشت فضا رامنځته کړه خو بیا هم روسانو هغه دمرتجع اوخائن په نامه معرفی اودیو بل گوډاگی اوبی حیثیته مزدور په واسطه یی له مینځه یووړ خارجی استعمار چیانو غوښتل چی دنوی مزدور یعنی حفیظ لعین په واسطه داسلامی تحریك قیام خپه کړی اودخپل نهایی ظلم ، وحشت او بربریت په واسطه دافغانستان مجاهد ملت تسلیم ته اړباسی دالعین داستعمارگرانو په قومانده که له یوی خوا دتره کی پلویان اوخپل گوندی رقیبان ترتیغ تیرکړل له بل پلوه یی په ملت دومره فشار واچاوه چی داستالین لعین دوریی له خلکو نه هیر کړ ، هغه ډیر بیگناه خلك ووژل په میلونو یی دهیواد پریښودلو ته مجبورکړل اوپه ډیره بی شرمۍ سره یی د۱۳۵۸ هـ ش دعقرب په دریمه نیټه ددوولسو زرو تنو بندیانو دشهادت تورلست دداخلی چارو په وزارت کی وځړاوه ددی فشار اوعام وژنی سره اسلامی جهاد نه یوازی داچی کمزوری نه شو بلکه نورهم تشدید اوپیاوړی شو نږدی وه چی حکومتی خلقی چونبی په کامله توگه دمجاهدینو په لاس فتح شی خوخارجی سرو استعمار گرانو دخپل زاړه سیاست په اساس بیا مهره بدله کړه په ډیره بی شرمۍ سره یی دغه غلام هم له کومی تیرکړ اودخائن مرتجع ، دامپریالیزم گوډاگی اوغربی جاسوس ټاپی پری ولگیدی اوبی ننگه ببرك ته ئی خوموده مخکی دتره کی اوامین له خوا دامریکا دایجنت اوخائن لقبونه ورکړل شوی وو اوله افغانستان څخه دباندی دتبعید په حال کی وو ، نن بیا په اصطلاح دانقلابی لیډر په نامه دروسی لښکرو سره زموږ پرملت تحمیل شو څرنگه چی دا دټولو کمونستانو اساسی خاصیت دی چی پس له مرگه دخائن اوپردی پال لقب ورکول کیږی خوپه ژوند دهغه هره خبره په

په اووم مخ

سناتور مولانا سمیع الحق په حقانیه مدرسه کي دتفسیر ددوري دپاي ته رسیدو په غونډه کي:

الحاج مولوی جلال الدین حقانی دخوست دفاتح اوامام شامل ثانی په لقب ولمانځه

خوست چی دکابل گوډاگی رژیم ترټولو لویه پوځی فرقه او دالوتکو دوه ډگرونه لری پرمجاهدینو دمرستو دبندیز سره سره دحق دلاری میړنیو سربښندونکو یوازی دخدای (ج) په مرسته ، ایمانی غیرت اودمتو په زور فتحه کړ ، دخوست فتحه شوی ښاربه دکابل اوجلال اباد دډیر ژر فتح کیدو اودافغانستان په شمول په ټوله نړی کی داسلام دعظمت اوبیره دبیا راژوندی کیدو په لاره کی پیلامه اوستر انقلاب ثابت شی داخبره دجمعیت علمای اسلام لارښود اودحقانیه دارالعلوم مدیر مولاناسمیع الحق صاحب دتفسیر ددوری دپای ته رسیدو په مناسبت لوی جوړی شوی غونډی ته کړیده.

مولانا سمیع الحق چی، ددغی غونډی مشر میلمه ؤ په تیرو لسوکلونو کی دخوست په محاذ کی دحقانیه مدرسی دفارغ التحصیل شهیدانو په تیره بیا دمولانا فتح الله حقانی اومولانا احمد گل ستاینه وکړه.مولانا سمیع الحق الحاج مولانا جلال الدین حقانی ته دخوست دفاتح اوامام شامل لقب ورکړاوویی ویل مجاهدینو دخپلو اوپردو دمرستو اوکومك له بندیدو سره سره وښودله چی دپردوپه مرسته نه؛بلکی دایمان په قوت جنگ گټل کیږی مولانا سمیع الحق وویل : که دپاکستان عالمان

اودینی ځواکونه داسلامی جهاد په خاطر سره یو ځای اویو موټی شی نوبی دینه ځواکونه به تارومارشی اوپه نتیجه کی به دشریعت حدود

نافذ کړی شی هغوی زیاته کړه چی دشریعت بل نه دډاینامتموکار اخیستل اویا په تعطل کی داچولو گردی ناولی هڅی ناکام کړای شی .

دکمونستانو جنایات ...

ځای اودقانون حیثیت لری . ببرك د۱۳۵۸ هـ ش کال دجدی په شپږمه نیته دسرو لښکرو په ټانکونو سپور زموږ هیواد ته داخل شو داسی وحشت اوبربریت یی پیل کړ چی تراوسه پوری یی ساری په تاریخ کی نه لیدل کیږی .

دکابل په ښار کی په سلگونو پیغلی اوهلکان په شهادت ورسول شول افغانستان یی کلی په کلی اوکورپه کور وران کړ ، بالاخره هغه هم ددوی په خوله بیا دامپریالیزم جاسوس وخوت اوپه توره پنجره کی دتبعید په حال کی دمرگ شپی اوورځی شمیری .

سرویرغلگرانو بل اصلی قاتل اوجلاد دنجیب په کرغیړنه څیره کی دببرك په ځای ودراوه خوپه دومره موده کی له بی انتها ظلم اوبی عدالتی سره سره چی دسرو لښکرو له خوا زموږپه مؤمنو مجاهدینو اوقهرمان ملت باندی کیده زموږمیړنی اومجاهد ولس دابراهیمی ایمان په اتکادسرو یرغلگرانو وحشی لښکرو ته سخته اورسواماتی ورکړه ترڅوچی خپری سترگی اوشرمیدلی زموږله مقدسی خاوری څخه وتښتیدل اوس هم زموږ قهرمان مجاهدین په پوره متانت اوشجاعت سره دخارجی طاقت دسپك اورسوا مزدور نجیب سره په جهاد بوخت دی اودی کار ته به ترهغه پوری دوام ورکړی ترڅو چی یوسوچه اسلامی حکومت په هیواد کی منځ ته راشی .

والسلام

۵۳ درصد ازقرا وقصبات افغانستان ...

دردوران اشغالگری روسها بر زراعت افغانستان صدمات فر اوان وارد گردید که اعمار مجددان وقت زیاد را دربرخواهد گرفت ، دراثر بمبارد مانهای انتقامی روسها باغات وانهار وکاریزهای ابیاری نابود وتعداد زیاد دهاقین یا شهید ویا مهاجر گردیدند وانعده اندك که هنوز هم درمناطق خویش مصروف زراعت اند اززمینهای خویش حاصل کافی گرفته نمیتواند.

همچنان درگزارش کمیته سویدن علاوه شده است درطول جنگ تقریبا ۵۳ درصد قراوقصبات که دهاقین درانها زنده گی داشتند ویران ۳٦ درصد از بندوانهار وکاریز های ابیاری از بین رفته است که ازاثر ان تولید گندم ابی ۳۲ درصد وللمی ۵۰ درصد کاهش یافته است .

یك نتیجه گیری نشان میدهد که درسال ۱۹۸٦ به مقایسه سال ۱۹۷۸ یعنی درطول هشت سال بصورت مجموعی درتولیدات زراعتی افغانستان ٤۵ درصد کاهش رونما گردیده است .

گزارش می افزاید : احصائیه وارقام نشان میدهد که قبل ازجنگ افغانستان جمعاً ۳۲ ملیون مواشی داشت که دردوازه سال گذشته بیست ملیون ان ازمیان رفته است .

دخوست په فتحه ...

مجاهدینو نیولی دی ، تخمیناً ٦۰ عرادی جوړاوخراب ټانکونه نیول شوی ، دموټرو شمیر هم خورا زیات دی ، انشاالله پدی لنډ وخت کی به دغنایمو تفصیلی شمیر معلوم شی تراوسه موږټول غنیمتونه ندی جمع کړی اونه مو نقل کړی ، زموږ ډیر وسایل تراوسه دکډو ، مریضانو اوعسکرو په انتقالولو کی مصروف دی ، دخوست په شفاخانه کی تقریبا ٤۵۰ یا ۵۰۰ مریضان پراته ؤ دوه ورځی حکومت نه ددوی پوښتنه کړی وه اونه یی ډوډی ورکړی وه اویله ورځ چی مجاهدین دخوست بازارته ننوتل دشفاخانی په دروازه کی ځودگلم جم اومحلی ملیشه دلی وی چی مقاومت یی وکړ اوموږ ونشوای کړای ترسهاره پوری شفاخانی ته ننوزو چی په دریمه ورځ موږ دموټرو په وسیله هغوی ازادو منطقو ته نقل کړل ، نولدی امله تراوسه موږ نه یو توانیدلی چی دغنایمو صحیح تعداد معلوم کړو ، اوهغه صحیح ځایونو ته انتقال کړو .

پوښتنه : دغنایمو دویش طریقه څنگه ده ، دابه په مجموعی توگه ویشل کیږی که هرچاچی څه نیولی دهغی دي ؟

ځواب : پدی هکله عمومی فیصله داسی شوی ده چی درنده اسلحه به دافغانستان دعمومی جگړی ترختمیدو پوری مشترگه وی، تقسیم کیږی نه ،اوپه عمومی توگه به ددښمن پرضداستعمالیږی ، دسپکی وسلی هم فیصله شوی چی دهری جبهی تعداد معلوم دی ، چی هره جبهه به ددومره تعداد مجاهدینو وسله ورکول کیږی ، اونن به بیا په شوراکی پدی هکله خبری وشی اودوسلی لستونه به برابر شی .

پوښتنه : په اخرکی که نړیوالو په تیره بیا مسلمانانو ته څه پیغام لری مهربانی وکړی.؟

ځواب : زما پیغام دنړی مسلمانانو ته دادی چی دخوست فتحی یو مهم عامل وحدت اوواحده اداره وه ، نور زما هیله له ټولو هغو مسلمانانو سره چی دکفر اواستعمارسره په جگړه بوخت دی داده چی په خپلو منځونوکی دی اتحاد راوالی ، ترڅو داسلامی نړیوال اوسرتاسری اتحاد لپاره زمینه برابره شی .

دوهم پیغام می دادی چی دنړی مسلمانان باید دغرب اوکفری هیوادونو دغه تبلیغاتو ته چی په افغانستان کی اوس خانه جنگی روانه ده توجه ونکړی ، زموږ جهاد دروسانوله راتگ څخه مخکی پیل شوی و ،اودروسانو له وتلو څخه وروسته هم دملحدینو سره زموږ جهاد روان دی نوموږ هیله لرو چی زموږ مسلمان ورونه خپلو مرستو ته له مجاهدینو اومهاجرینو سره ادامه ورکړی ،او خپلی مرستی باید له پخوانه هم زیاتی کړی

واخر دعوانا انالحمدلله رب العالمین

دخوست فتحه درون ...

دښمن یی یو ځل بیا موږ ته په پښو ودراوه که نه نو اوس به یی لا پخوا بستره دافغانستان څخه ټوله شوی وای نه به یی دخلق په نوم کوم گوند ؤ اونه نوطن !

له نیکه مرغه اوس دغه ټول پروپاگندونه دخوست فتحی ترخاورو لاندی کړل دښمن ته یی هم وښوده اونړیوالو ته هم ، که چیری مجاهدین یو موټی شی نو گوډاگی رژیم میڅکله هم ورته دټینگی نه دی ځکه چی دروس دماتی په څیر ستره کامیابی دهمدغو بېرسرو،غریبو اوبی وزلو مجاهدینو دلاس میوه ده ،که نه نو معاصره نړی کی خو هیچا هم دروس سره سترگی نشوی جنگولی پاتی خو لا روس ته ماتی ورکول ، داخو دهمدغو مجاهدینو روحانی قوت اودپاکو وینو برکت ؤ چی روس یی یښتی ته مجبور اودامو له سیند څخه یی په دانگونو ورواړاوه ، اوکه چیری داسی نه وای شوی نو اوس به یی اوربوز دخلیج په سیمو کی ښوراوه .

اوس نوبه که خیروی دخوست فتحه څو ورځی وروسته دڅور داوومی نیتی دتوری کودتا څخه مخکی په خلقیانو اوپرچمیانو داسمانی تندر کاروړکړی ، او داسی به یی وځپی چی دڅور داوومی نیتی نمانځل به یی له مرگه پاتی کړی اودخپلو بادارانو په مخ کی به یی په ټیټو اوخجالتو سترگو ودروی ځکه چی دوی خو ورسره ۱۳ کاله مخکی دگران هیواد دخرڅیدو خبره کړی وه لا پی شاپی یی ورته کړی وی دځانو څخه یی ورته دهیواد اصلی بادارا ن جوړکړی وو اوخارجی هوایی دمغزو څخه داخبره ویستلی وه چی دافغانستان هره دره دښنو زمریو څخه ډکه ده اوهرگټ اوکمر یی دباتورانو سنگردی .

لدی وروسته روس اودهغه مزدورانو ته پکاردی چی نور زموږ دهیواد دتباهی اوبربادی څخه لاس په سرشی مظلوم ملت دی ته پریږدی چی دخپلی خوښی سرنوشت پخپله وټاکی پدی لرغونی هیواد کی دبل په خوښه سرنوشت نه ټاکل کیږی اوهغی خواته دی مخه کړی په کوم ځای کی چی ددوی تر بیت شوی دی ، چاچی ددی ناپاکو اومردارو هدفونو لپاره تربیه کړی ؤ، اوبیا یی ددغو هدفونو دلاس ته راوړلو لپاره داقتدار ترچوکی رسولی وو .

خوله نیکه مرغه یی دغه بشپړ پلانونه دخاورو سره خاوری شول اونن به په ټیټو اوخړو سترگو دخپلو بادارانو په مخ کی دریږی اودمجاهدینو دتوری څخه دزخمی زړه شکایت به ورته کوی ځکه چی ښکلی هیواد خویی په کنهوالو بدل کړخو یو هدف یی هم ترلاسه نکړای شو پرته له دی چی خویندی کونډی،میندی بوری او کوچنیان یتیمان کړی اودافلاس اودرپه دری له ژوند سره یی مخامخ کړی .

اوس نو درون سباوون ارمانجنو ته اودجهاد دسنگراتلانو ته لازمه ده چی دخوست دفتحی څخه وروسته لاپسی یو لاس او یو موټی شی اوخپل اسلامی جهاد ته نوره توندی وروبښی نو انشاالله ډیر ژر به کامیابی دهمدوی قدمونه ښکل کړی .

به سوی ازادی کامل افغانستان عزیز...

همیشه درسنگر باقلب های اراسته به ایمان وعقیده راسخ اسلامی موازنه ناموزون قوا را نادیده گرفته وبه فرق دشمنان دین ووطن خویش چنان کوبیدند که حواس شان پرت وبلند پروازی شانرا به یاس وناامیدی تبدیل کرد وتوانستند ابر قدرت جهانی رابزانو دراورند .

نباید ازین امر چشم پوشی کرد که خوست ازلحاظ ستراتیزیکی ازجمله پر اهمیت ترین مناطق به رژیم مزدور کابل میباشد ورژیم به هیچ صورتی حاضر نبود این منطقه مهم را ازدست بدهد ، بنا ازاغاز حمله مجاهدین برخوست تمام امکانات نظامی را بکار انداخته به اعزام هیات عالیرتبه ونیروهای اضافی وارسال وسایط ووسایل خویش این شهر راتا دندان مسلح نمود ، وازطرفی به مانور های سیاسی ادامه داده وشکایات گوناگونی رابه سرمنشی سازمان ملل متحد ورهبران کشورهای دوروَنزدیک براه انداخت تااگر بتواند سدراه پیروزی مجاهدین شود ویا هم ازارزش فتح بکاهد، ولی حمله مشترک ومتحدانه تمام تنظیم های جهادی تحت یک قومانده واحدوترتیب پلان دقیق ومنظم حربی شان به دشمن زبون وشکست خورده مجال مقاومت رانداده ، درمدت بیش ازدوهفته یعنی بتاریخ ۱۱ حمل سال ۱۳۷۰ شهرخوست بصورت کامل توسط مجاهدین شجاع فتح گردید که یکروز بعد ان نجیب سردمدار رژیم به شکست خویش اعتراف کرد .

این فتح ظفر افرین که سراغاز فتح وازادی کامل کشور عزیزمان افغانستان محسوب می شود الحق که شهکار ونبوغ سنگرداران راه حق اسلام راثابت ساخت که خداوند متعال (ج) براتان وملت مسلمان افغانستان ارزانی فرمود وبدین ترتیب روح تازه یی دررگ های مجاهدین غیور ومهاجرین ستمدیده دمیدن گرفت.

وبه تمام انهای که می پنداشتند مجاهدین نمیتوانند دربرابر رژیم کاملا مسلح شده کابل موفقیت های نظامی رابدست اورند، واقعه باورنکردنی بود .

نیروهای جهادی بیشتر ازپیش درك کردند که اتحاد ، اتفاق وبرادری واقعی راهیچ نیروی کفری وطاغوتی نمیتواند ازپادر اورد،بنا این نبرد امتحان وازمایش بزرگ مجاهدین بخاطر تحکیم اتحاد واتفاق بود که سر انجام به پیروزی چشمگیری نایل گردید ، هموطنان اگاهی دارند که دشمنان جهاد ، دشمنان اسلام ودشمنان وطن کوشیدند تااگر رخنه یی درین نبرد مشترك وبرحق وارد اورند وبه بهانه های این وان نیروهای جهادی راعلیه یکدیگر برانگیزند، اما قلب هاي پاك ومملو به عقیده اسلامی هرگز به توطیه ها ودسایس دشمنان اثری نگذاشته وبرطبق فرمان الهی عمل نمودند که سبب خرسندی وخوشبختی مسلمانان کشور ما گردید .

نباید فراموش کرد که اکنون هم دسایس ومنافقت های دشمنان ادامه دارد وهرلحظه درانتظار متفرق ساختن وایجاد عکس العمل ها دربین نیروهای جهادی میباشند درین ایام حساس وسرنوشت ساز که قدم به قدم به سوی هدف نهایی نزدیکتر می شویم ورژیم منفور نجیب روز تاروز تاب مقاومت راازدست میدهد ، وجیبه ومکلفیت هرتبعه مسلمان افغان است که به دسایس دشمنان توجه ننموده مشترکا درفضای اخوت وبرادری ، صمیمیت ودوستی اسلامی درزیر لوای اسلام علیه رژیم دست نشانده روس بتازند تاباشد مثال ونمونه تازه یی عشق به اسلام،عشق به وطن وعشق به آزادی رابحیث درس عبرت به نسل های اینده درتاریخ ثبت نمایند .

هیچ سوالی وجود ندارد که مجاهدین بخصوص قیادت جهادی طبق دستورالهی بخاطر اتحاد حقیقی دربرابر دشمن اسلام عمل نکنند، اتحاد وعمل متحدانه قیادت جهادی میتواند پیروزی مجاهدین راعلیه کمونستان تضمین نماید.

به امیدوارزوی انروزیکه متحدانه ومتفقانه برفرق دشمن بکوبیم ومانند فتح شهرخوست تمام شهرهای کشور وبالاخص شهر کابل راازچنگال ناپاك غلامان حلقه بگوش روس ها ازاد سازیم وبیرق اسلام رابر فراز ان شهر بر افرازیم

عراق دهمیشنی اوربند دملګرو ملتو شرایط ومنل

عراق دملګرو ملتو له خوا داوربند له پاره وضع شوی شرایط رسماً ومنل-دملګرو ملتو په هغه پریکړه کی چی داوربند شرایط پکی ذکر شویدی راغلی چی عراق دی ټولی هغه وسلی له منځه یوسی چی تباهی راولی،له کویټ سره دی خپل سرحد په ۱۹۶۳ کال کی تعین شوی،ومنی اوهغه تاوان دی پری کړی چی کویټ ته یي داشغال په وخت کی رسولی دی .

دامریکی جمهور رئیس دعراق له خوا داوربند درسمی منل کیدو په ارتباط وویل چی امریکایی عسکربه ډیر ژر دعراق له خاوري څخه ووزی .

همدارنګه دملګرو ملتوسرمنشی پیشنهاد کړیدی چی څلوېښت هیوادونه دی دملګرو ملتو په پوځ کی دعراق اوکویټ ترمنځ یو زرو څلورسوه عسکر واچوی .

منطقه خواجه اسفلان فتح گردید

مجاهدین طی عملیات موفقانه منطقه خواجه اسفلان ولایت فاریاب رابشمول چاه نفت فتح نمودند.

براساس اخبار ناشره درپشاور مجاهدین درین اواخر برغند قومی حبیب الله بیك درقیصار حمله نموده بیست تن ازافراد مسلح دشمن راتسلیم وپانزده تن دیگر بشمول یك صاحب منصب به هلاکت رسیدند .

مجاهدین طی این فتح یك مقدار کافی سلاح ومهمات رابدست اوردند همچنان درخبر امده است که مجاهدین منطقه هزار قلعه رانیز که دارای پنجصد خانه ملیشا بود فتح نمودند طی این عملیات صد تن ازافراد دشمن به اسارت درامدند درین عملیات مجاهدین یك مقدار مهمات رابشمول دومیل زیکویك چارمیل پیکا ، سه میل (ار ، پی ، جی ۷) ، یك میل نارنجك انداز رابا دوپایه مخابره بدست اوردند .

کشمیری مجاهدینو زیات شمیر هندی پوځیان وژلی دي

سری نګر دحمل ۱۷ مه :

کشمیری آزادی غوښتونکو مجاهدینو دسرینګرپه زاړه ښارکی دهندی پوځیانو پریوه زیرزمینی نظامی مرکز باندی دراکټونو او بمونو یوه حمله ترسره کړه ، همدارنګه دنیول شوی کشمیر په نورو ښارونو کی هم دهندی پوځیانو پر زیرزمینی مرکزونو باندی دراکټونو بریدونه ترسره شوی .

دکشمیر ازادی غوښتونکوړوی منبع ویلی دی چی ددی حملو په ترڅ کی په سل هاوهندی پوځیان وژل شوی اویو شمیر نور یی ترخاورو او خښتو لاندی خښ شوی

دبګرام په هوایی ډګر دمجاهدینو حمله ...

دکابل دکوه صافی څخه په راغلو رپوټو کی ویل شوی چی اتلو مجاهدینو دحمل په ۱۲ ، ۱۳ او ۱۴ نیټه هره ورځ دسکر ۲۰ توغندیو ۲۰ ګولی دبګرام په هوایی ډګر ویشتی دي .

ددی ګولیو دلګیدو له امله ددښمن ۱۳ الوتکی او ۱۷ ټانکونه زیانمن، ۵۰ تنه صاحب منصب اوعسکر په هلاکت رسیدلی دمهماتو ۵ دیپو ګانی سوځیدلی اودالوتکو یو ورکشاپ اوګراج ویجاړشوی دی .

وروسته بیا دررژیم الوتکو پر مجاهدینو بمباری وکړه چی په نتیجه کی یو تن مجاهد اودسیمی یو تن اوسیدونکی ټپی شویدی .

په سمنګان کی پر نظامی کتار دمجاهدینو حمله

دقوماندانانو شورانظامی دفتر دجهاد هنداری خبریال ته په یوه رپوټ کی څرګنده کړه چی دسمنګانو ولایت مجاهدینو دحمل په ۱۳ نیټه دمزدور رژیم په یوه اکمالاتی کتار باندی چی غوښتل یی دکابل خواته وخوځیږی ، دتاشقرغان مزار شریف ترمنځ په لویه لاره کی برید وکړ ، ددی برید په نتیجه کی دررژیم ۱۲ تنه عسکر وژل شوی اویو شمیر یی زخمی شول همدارنګه یوه زغروال ټانکونه د۷ عرادو پوځی لاریو سره ویجاړ اودری عرادی لاری له خوراکی موادو سره دمجاهدینو له خوا په غنیمت نیول شوی .

دیو بل خبر له مخی نومړو مجاهدینو دحمل په ۱٤ نیټه دتاشقرغان په سیمه کی ددښمن پر مرکز باندی دمیزائیلو ډزی وکړی اوله دی امله یی یوعراده ټانك اودوی عرادی پوځی لاری داور لمبه کړی خودښمن دتلفاتو رپوټ په لاس رانه غلو .

دهیښت تحریر ترنظر لاندي
مکاتباتي پته
پوست بکس (۱۰۳۳)
یونیورستي تاون پیښور
تیلفون : ... (٤١٧٤٦)

تشکل نیروهای جهادی هرات

میدیا ۱۵ حمل :

بدنبال حملات که اخیرا قوای رژیم برمواضع مجاهدین درهرات انجام دادند غند مشترك مجاهدین بنام غند (مرگ اهریمن) تشکیل گردید

بگزارش نمایندگی (میدیا) ازکویته که به نقل ازراپورقرارگاه شهید (نیازی) داده شده است ، غند مشترك از (۳۰۰) مجاهد ورزیده مسلح ازقرارگاه های شهید نیازی وجبهات غلام یحیی اکبري بمیان امده است

راپورمی افزاید غند مرگ اهریمن که ازتشکل خود درمقابله بادشمن قراردارد ، درجبهات مختلف تاکنون ۲۳ نفر ازقوای دشمن شامل ملیشه وعسکر راازپادراورده ١٤ نفر رامجروح و ۲۰ نفر دیگر رااسیر کرده است .

قرارگزارش طی این فعالیت های جهادی ۷ تن ازافراد این غند شهید و۱۳ نفر دیگر مجروح شده است .

مجاهدین دوصد مرکز حکومتی وشش مرکز ولایتی بدست دارند

حکومت امریکا به تعقیب پیروزی مجاهدین درخوست به حکومت نجیب الله درکابل هشدار داد که اگر قدرت راترك نگوید مجاهدین فعالیت های نظامی شانرا جدی تر خواهند ساخت .

این مطلب رارابرت کیمیت یکی ازمعینان وزارت خارجه امریکا اظهار داشته افزود که سقوط خوست ثابت میسازدوقت ان فرارسیده است که مردم افغانستان حق خود ارادیت وسرنوشت خود را خود تحقق بخشند .

همچنان روزنامه نیویارك تایمز نوشته است باسقوط خوست مساعی ده ساله مجاهدین بخاطر غلبه برین منطقه به ثمر رسید ومجاهدین فعلاهشتاد درصد قلمرو افغانستان راکه شامل دوصد مرکز حکومتی وشش مرکز ولایتی است دردست دارند .

دقیصار اوغورماچ په ولسوالیو کی جهادي بري

میدیا :

په هغو عملیاتو کی چی مجاهدینو په دی وروستیو وختو کی دبادغیس ولایت دغورماچ اودفاریاب ولایت دقیصارپه ولسوالی کی دکابل رژیم پرمورچو ترسره کړل په عمومی توګه ٢٤ کلی او ۵۰ پوځی پوستی فتح او دررژیم له افرادو څخه ۳۵۰ تنه دمجاهدینو له خوا ونیول شول .

دمیدیا خبری اژانس همداراز خبرورکوی چی پدغو عملیاتو کی هغه دیرش زره خلك چی پدغو کلیو کی وو ازاد اودقیصار اوغورماچ دولسوالیو چاپیر امنیتی کمربندونه هم دمجاهدینو له خوا له منځه وړل شویدی .

خبرزیاتوی پدغو عملیاتو کی درژیم له ملیشو څخه ۳۵۰ تنه اسیر ۲٦ تنه مړه اویو شمیر نوریی دملیشو له قوماندان سره دروس ٤٥ سرحدی پوځ ته پنام وړیده .

مجاهدینو ددغوعملیاتو په ترځ کی زیات شمیر وسلی اومهمات ولجه کړیدی .

اثر بزرگ شورای قوماندانان برجهاد

نتیجه که ازفتح خوست بدست می اید اینست که بعد ازین جهاد افغانستان باید توسط قوماندانهای ورزیده کشور وبه امر انها صورت گیرد

داکتر روان فرهادی یکی ازمحققین وسیاستمداران اسبق افغانستان درمصاحبه بارادیو صدای امریکا با ابراز مطلب فوق گفت : شورای قوماندانان داخل افغانستان که شش ماه قبل دایر گردید اثر بزرگ برجهاد داشت وامید است که تصامیم انها دراینده نیز موثر ومفید ثابت شود .

وی افزود چون قوماندان ها بامردم وجهادسروکاردارند از تماس نزدیك شان بامردم ازطریق کمك درتهیه مواد غذایی واجتناب ازپرتاب راکتهابه محل تجمع مردم میتواند بسیار مفید باشد واین امرفضای اعتماد رامیان طرفین تامین نموده میتواند .

وی گفته است : عملیات جهادی درافغانستان ازطرف قوماندانها بدون مداخله خارجی صورت گیرد .